لیکوالان: ډاکتر محمد حسین پاپلي یزدي
او ډاکتر فاطمه وثوقي
پښتو ژباړه: ع. ا . نجات

۲۰۲۱/۱۲/۱۲

# لویه تلوسه

## شپاړلسمه برخه

## د اوبو بین المللی قوانین

**دوهمه برخه**
**دویم فصل**

### د هیواد په شمال ختیځ کې د اوبو وضعیت:

د هیواد ختیځ، په تېره بیا پولي سره څېرمه پراته ولایتونه د اوبو له سختو او شدیدو ستونځو سره مخامخ دي. همدي امله دي مسېلي ته پدي برخه کي زیاته پاملرنه کېږي.

د ایران نیمایی مرکزي او ختیځ د اوبو له سخت کموالی سره مخامخ دي. همدا اوس د زابل، زاهدانو او مشهد ښارونه د اوبو سمبالښت پلوه په افغانستان پوري تړلي دي. هلمند او هریرود د ایران د ختیځو اوبو په سمبالښت کي ورځ تربله زیاتیدونکی رول لري. د ګلستان، شمالی خراسان، رضوي خراسان، سهیلي خراسان، سیستان او بلوچستان او سمنان په ولایتونو کي زرګونه کلي او لسګونه ښارونه د اوبو له سخت کموالي سره مخامخ دي. دا پدي مانا نده چي په نورو ځایونو کي ښارونه او کلي د اوبو له کمښت سره مخامخ ندي. اصفهان ولایت د اوبو له سخت کمښت سره لاس ګریوان دَی. دولت څخه د دغه ولایت د استازو یوه غوښتنه ( لدي ډلي د ۱۳۸۸ کال وري- حمل میاشت کي اصفهان ته د دولت د پلاوي په مسافرت کي) د دغه ولایت د اوبو د کموالی ربړې له منځه وړل دي. د یزد، اردکان، میبد د لرغونو او څو زرکلنو ښارونو ژوند د دز رود له اوبو پرته چي له کوهرنګ لاری زاینده رود ته راځي او له هغه ځایه دغو ښارونو پر لور پمپیږي له سختو ګواښونو او محدودیتونو سره مخامخ دی.

د اصفهان او یزد ولایتونو ځینی برخي او په راتلونکي کي د کرمان او قم ولایتونو ځیني برخي به لا زیاتی د هیواد په لویدیزو اوبو پوري وتړل شي. دا هم د پام وړ ده چي د دز او کارون له سرښاخونو څخه د اوبو لګښت پخپله دغي حوضي لپاره او په ځانګړې توګه خوزستان لپاره د اوبو د لړوالي ستونځي او د ژوند د چاپیریال سختي ستونځي رامنځ ته کړي دي. دغه ستونځي هومره لوېي دي چي د هیواد داخلي حوضو ته د کارون او دز له سرښاخونو څخه د نورو زیاتو اوبو د لیږدولو د نوېو پروژو تر پوښتني لاندي راتلو احتمال لیدل کیږي. دا مهال، د تهران د اوبو یوه برخه هم هغو اوبو سره ( د لار، شاهرود او طالقانو رودونه).چي په طبیعي توګه د مازندران سمندر ته تویږي، تړلي ده

آیا کولای شو د هیواد د لویدیځو اوبو یوه برخه د هیواد ختیځ ته را ولیږدوو؟ د هیواد د لویدیځو اوبو رالیږدونه، مشهد، زاهدان، زابل او د ګلستان ولایت، بیرجند او قوچان پولېزې برخي ته، دري اساسي ستونځي لري:

۱ ـ په ذاتي توګه د هیواد لویدیځ هومره اضافي اوبه نلري چي اوبه بې دغو سیمو ته راولېږدول شي. پردي سربېره په هغه صورت کي که اضافي اوبه هم وي د لاړې پر سر(ترمنځ) پرتي سیمي یاني د مرکزي سیمو ولایتونه چي اوبو ته اړتیا لري او نشو کولای لاري پر سر(منځ) پرتو سیمو له اړتیاو لېرې کولو پرته د هیواد ختیځو سیمو ته اوبه ولیږدوو. پدي صورت کي په عملي توګه اوبه ختیځو سیمو ته نه رسیږي.

۲ ـ د هیواد لویدیزو سیمو څخه ختیځو سیمو ته د اوبو لېږدونه، د تیکنالوجی، پمپاژ او داسي نورو له کبله، ډیر پیچلی کار دَی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولـئ

۳ ـ د هېواد لویدیز څخه ختیځ ته د اوبو لېږدونه اقتصادي پلوه نامعقوله او لګښت یې ډېر لوړ دي نو په عملي توګه د ایران کې د ننه ځمکي د پاسه اوبو څخه د هیواد د ختیځو برخو د اوبو سمبالښت یو ناشونی کار دَی.

**د هېواد په ختیځ کي ځمکلاندي اوبه:**

۱۳۵۰ لسیزي څخه رادیخوا دځمکلاندي اوبه زیرمو د بی ډېه لګښت له کبله د هیواد ټولي نیمه ختیځي دشتي د اوبزیرمو( مخزن) له جدي کسر او د ځمکلاندي اوبو زیرمی د سطحي د ډېري زیاتي ټیټیدو له ستونځي او د ځمکي د تدریجي ښکته لویدني له ستر ګواښ سره مخامخ شوي دي. البته دا پدي مانا نه ده چي د هیواد لویدیز ولایتونه له دې ستونځي په امن کي دي. همدان ولایت هم د ځمکلاندي اوبو له کموالي سره مخامخ دی.

که له۱۳۴۰ لسیزي څخه مو پر ملي ګټو بنا شوی سم سیاست او ستراتژي او چاپیریالي ژوند او ټیکاومني پراختیا پر بنیاد او د اوږدمهاله لوې اقتصاد پر بنسټ، سم سیاست او اوږدمهاله لوی اقتصاد لورلید درلودلای، باید د هیواد په نیم ختیځه کي مو د کر کېلي اوبو لپاره د ژورو کویانو(څاګانو) په بنه له ځمکي لاندې اوبو څخه د کار اخېستني لاره غوره کړي نه وای..

له ژورو څاګانو د بی ترتیبه او غیرستندرډ ګټي اخېستني غوره کولو پایلو نن سر را پورته کړی دی. ډېري مهمي پایلي یې په دا لاندې دي:

۱ ــ د افغانستان اوبو سره د هیواد د ختیځ ډېره زیاته تړلتیا (ښکېلتیا)

۲ ــ د ژوند د چاپیریال ستونځو سر را پورته کول دځمکلاندي اوبو د اوبزیرمو (اوبډندونو) د سطحي ټیټیدل او د ځمکي کېناستل .

۳ ـ په بحراني ډاګونو کي د کرنیزي برخي پانګي د زرګونو ملیارده تومانو ګواښنه.

۴ ـ د کرکېلي په برخه کي د لسګونو زرو بوختیاو (شغل) ګواښل.

| |
|---|
| په ډېري خواشینَی چي پراختیا ضد او ملي ګټو ضد دغه ناسم سیاست لاهم دوام لري. د ۱۷/۱/۱۳۸۹ نېټي د اسلامی شورا په مجلس کي بي جوازه څاګانو لپاره، دجواز صادرولو اړوند قانون تصویبول په عملي توګه د پراختیا ضد، د ملي ګټو ضد او هېواد کي د ژوندچاپیریال ضد یوه قانون پراخول دَی چي د تېري تېروتني لاري ته دوام ورکوي. |

د هېواد د ژوند چاپیریال تر ټولو لویه ستونځه، چي د ارومېي بحیري ، او په کشف رود کي د ننه فاضلابو سره کرل شویو ککړو شینلو ( سبزي) او د فارس ولایت د تالاونو وچېدلو له ستونځي ډېره مهمه ده، د ځمکلاندي اوبو د سطحي ټیټېدنه او د دشتو او ډاګونو کېناستل دي. د ځمکلاندي اوبو لوېدل (ټیټېدل) هغه ناورین دَی چي زمونږ ملي ګټې، ملي امنیت، او زمونږ د خاوری د یوې برخي تمدن ګواښي. د ژوند چاپیریال ساتني سازمان دغي اساسي مسئلي لپاره کومه ځانګړي برنامه نه لري. دې سازمان دغي ستونځي په وړاندې داسي چوپتیا غوره کړې ده چي ګواکي د دشتو (راغونو-ډاګونو) وچېدنه د هغه سازمان له دندو سره هیڅ تړاو ونلري. البته اجرایي دنده د انرژی وزارت دَی خو د ژوند چاپیریال ساتني سازمان د څارني مسئول (پازمن) دَی. دې سازمان په دې تړاو هم خپله دنده او مسئولیت سم نه ده پرځای کړَی.

په ۱۳۸۷ کال کي دوستی بند څخه مشهد ته د اوبو لېږدوني د(نل) لیکي پرانېستو پر مهال د دوستی سد څخه د یوه متر مکعب اوبو د لېږدوني لګښت د انرژی له سبسایډي سره شاوخوا۵۵۰۰ ریال ؤ. په یوه ثانیه کي مشهد ته د دوستَی بند


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

څخه د ۶ مترمکعب اوبو پمپولو لپاره د اړتیا وړ بریښنا کچه د قوچان د ۱۱۰۰۰۰ کسیزه ښار د بریښنا له اړتیا سره معادل دی.

تر راتلونکو پنځوسو کلونو - یاني ۱۴۴۰ لسیزه پورې که چیرې د جمعیت او کړوالی کنترولولو له لارې د هیواد د ختیځ د جمعیت راتپیتولو سیاستونه تعقیب کړو بیا هم نشو کولای د پاتې جمعیت حتی د اړتیا وړ څښاک اوبه له داخلي سرچینو تامین کړو. د څمکلاندې اوبو تعادل خو په هغو دشتو کې ډېره لرې مسئله ده چې دا مهال پخپله ژوند چاپېریال لپاره په یوه ناورین بدلې شوي دي. د مشهد، فاروج، شیروان، نیشاپور، تربت جام او د ستر خراسان په لسګونه نورې دشتې د ژوند چاپېریال د ناورین بشپړ بېلګې دي. ښکاري داسې چې د هیواد په ختیځ کې به د څښاک اوبو اړتیا د دې لامل شي چې مونږ ورو ورو د کرکېلې اوبه د څښاک، صنعت او خدماتو لپاره ولګوو، هغه کار چې کلونه مخکې مو پیل کړی دَی. ۱۳۹۰ په ثور میاشت کې د رضوي خراسان د هغه وخت والي یو امر کړی دَی کشکې چې دغه دستور لسګونه کاله مخکې ورکړل شوَی وای. دستور دا دَی چې صنعت ته د اوبو ځانګړې کول یوازې د کرهنې د څاګانو اوبو د پیرودلو له لارې کیدونکی دَی. که چیرې همدې دستور عملي کېدو لپاره کومه کاري توګه یا مکانیزم، چې یو بې د اوبو بازار بورس رامنځ ته کول دي، جوړ نشي د صنعت وده پدې ولایت کې له ستونځې سره مخامخ کیږي. باید د هر ښه دستور لپاره، مناسبې اجرایي طرحې هم، چې ټولنیز- اقتصادي، بوختیا او د فني مسئلو اړخونه یې کتل شوي وي، مطالعه، ترتیب او اجرا کړو.

له ۱۳۸۲ کال راهیسې د خراسان د سیمه ییزو اوبو شرکت، د کارده او طرُق بندونو د لاندنیو اوبو له کروندګرو سره د یوه قرارداد په ترڅ کې، د هغوی اوببرخه د مشهد څښاک اوبو ته ځانګړې کړه او د عوضي اوبو په توګه یې د مشهد کارول شوې ( ککړې یا پاتې شونې) اوبه هغوی ته ورکړې. د ګنو ناستو په ترڅ کې په شمالي خراسان کې د بجنورد د شیرین درې بند د لاندنی اوببرخي ونډه په هر هکتار کې له ۹۵۰۰ څخه ۷۵۰۰ متر مکعب ته راښکته شوه څو د بجنورد ښار او څنګ ته پرتو سیمو د څښاک اوبه تامین شي. په راتلونکې کې به بیا هم د کروندګرو د اوبو برخې ونډه راښکته شي. په شمالي خراسان کې، د څښاک او صنعت د اوبو په کڅه، د شیروان بند د لاندېنی برخې د کروندګرو اوبو ونډه مخ په کمېدو ده. د طرق مشهد په بیلګېزه کرونده کې، د خراسان رضوي ولایت له پنځوسو څخه د زیاتو څاګانو اوبه، چې قدس رضوي ولایت پورې تړاو لري د پاتې شونو اوبو په بدل کې د مشهد اوبو شرکت ته ورکول کیږي څو د څښاک اوبو لپاره مصرف شي او یا یې وتړي. دغه بهیر به په ظاهري توګه دوام ومومي.

د کرنې د اوببرخو راټیټېدنه یاني پدې برخه کې د بوختیا راټیټېدنه. سمه ده چې په کرهنه کې د اوبو لګونې(پنولو) د لارو چارو اصلاح او په هر کیلو محصول کې د اوبو پایلې ډېرول او د دریمې برنامې د ۱۰۷ مادې او د څلورمې برنامې د ۱۷ مادې او د پنځمې برنامې۱۴۰- ۱۴۱- ۱۴۲ مادو د موخو اجرا کول باید په جدي توګه تعقیب شي.

خو د حیرانتیا ټکی دا دی چې ځینې کسان وړاندیز لري چې د دوستی بند اوبه چې متر مکعب یې په ۵۵۰ تومانه د سبسایډی انرژی پر مټ مشهد ته راوړل کیږي په کرهنه کې ولګوو څو د څمکلاندې اوبو زیرمې بډایه( ډکې) شي . یو وار مو زیرمه (سُفره ) تشه کړه بیا مو د نفتو په بیه، د ګازو په قیمت اوبه ځمکې ته ور تزریق کړې، هلته بیا نو د ملانصرالدین کیسو ته خاندو. زمونږ پراختیایي چارې په ټوله کې همداسې دي. د هغو اوبو مهمه برخه په مشهد ښار کې په موټرو، کورونو، انګړونو او د تشنابو په مینځنه(پرېوللو) لګیږي. مونږ د مشهد څښاک اوبو په خاطر د بند او شبکې جوړولو لپاره یوازې شاوخوا ۴۰۰ ملیارده تومانه پانګه لګوو. هرکال په ملیاردونو تومانه په انرژی او پمپولو(پمپاژ) لګوو، حاضر نه یوه زرمه برخه یې په فرهنګ جوړونه ولګوو.

| |
|---|
| **د هیواد د اوبو سیاست له غټو کمیو یو یې د څښاک او کرهنې اوبو غوښتنې او لګښت راټیټولو لپاره د فرهنګ جوړونې سیاست د محدودوالي مسئله ده!** |

بهرنیو چارو وزارت په عادي حالت کې، د اوبو لګښت د الګو په اصلاح او د غوښتنې راټیټولو په اجرا کولو کې هیڅ رول یا دنده نلري. خو اوسنیو او راتلونکو شرایطو کې که چیرې دغه مواد عملی نشي باید اوبه له بهر څخه را واردې شي. او پدې صورت کې به بهرنیو چارو وزارت رول ولري. جالبه ده چې د دولت او قانون جوړونکو هم پام شوَی دَی چې اوبه باید له بهر څخه واردې کړو ، لدې کبله دغه چار د پنځمې برنامې قانون ۱۴۰ مادې په پنځمه فقره (بند) کې،


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

سیمي هیوادونو سره د اوبو د وارداتو او صادراتو ترسرلیک لاندې ترسترګو کیږي. دولت او قانون جوړوونکی هم پوهیږي چې مونږ صادراتو لپاره چنداني اوبه نلرو. یوازې کېدی شي وکړای شو د کارون یوه برخه یا اروند رود څخه خپله ونډه صادره کړو. نو ځکه د قانون په متن کې د وارداتو کلمه له صادراتو وړاندې راغلې ده. په راتلونکي کې به بهرنیو چارو وزارت هم د اوبو په مسئله کې ښکېل شي. که څه هم همدا اوس هم ورسره ښکیل دی. نوکله چې پام کې وي او وټاکل شي چې اوبه له بهر څخه واردې کړو نه یوازې به بهرنیو چارو وزارت دغه راز د سوداګرۍ وزارت د اقتصاد او مالیې وزرتونه، کورنیو چارو وزارت، اطلاعاتو وزارت، د ټول هیواد سرحدي ساتونکي او امنیتي مسئولان په جبري توګه د اوبو هراړخیز مدیریت کولو ډګر ته وارد یږي.

**د هیواد په ختیځ او شمال ختیځ کې د اوبو ډیپلماسي:**

د هیواد د ختیځ ډېر ستر سیندونه (رودونه) چې سرچینه یې له هېواده د باندې(افغانستان) واقع ده، هلمند او هریرود دي. د افغانستان په پراختیا سره چې د هغه هېواد د ملت حق دَی ایران ته د دغو سیندونو ورکړه(راتلو کچه) مخ په کمېدو ده او په راتلونکي کې به نوره هم راښکته شي. اوس که چیرې د پراختیا په دلیل په افغانستان کې له دغو دوو سیندونو څخه د زیاتي (اضافي برداشت) اوبو لګونه د وچکالی او د اقلیم په بدلون بشپړ کړو، ان په افغانستان کې له دغو سرچینو سره د تړلو ښارونو د اوبو لیدلورى هم راتلونکي لپاره تت او پیکه ښکاري. پردې اساس په ایران کې د اوبو د ډیپلماسی یو اساسی اصل باید د هیواد په ختیځه نیمایی کې د شرب(څښاک) د اوبو په سمبالتیا او د اوبو د اړتیاو د رفع کولو په ډیپلماسي متکي وي. دغه دیپلماسي په دوو برخو او یا دوو لیدتوګو ویشل کیږي:

۱ ـ ګاونډیو هیوادونو افغانستان، ترکمنستان او پاکستان سره ډیپلماسي یانې هغو هیوادونو سره چې مونږ هغوی سره ګډپولیز سیندونه لرو او په سنتی – عرفي او قانوني توګه اوببرخه(حقابه) لرو.

۲ یوې پراخې جغرافیوي حوضي سره ډیپلماسي چې کولای شي په راتلونکي کې د هیواد ختیځ لپاره اوبه تامین کړي. کېدای شي دغه حوضه ډېره پراخه وي له ولګا تر لُنا له آمودریا تر سند حتی د هندوستان تر سیندونو پورې . یانې هغه سیندونه چې مونږ هغوی سره ګډه پوله نلرو او اوبه برخه هم نلرو.

**افغانستان سره د اوبو ډیپلماسي:**

د سیستان په آبادۍ کې د هیرمند سیند اساسي او بنستیز رول درلودلی او هم یې لري . دې سیند نه یوازې زمونږ او د افغانستان د خلکو ژوند بلکې او په اره توګه د ختیځې نړۍ فرهنګ او تاریخ یې اغیزمن کړَی دی.

هریرود هم یوه تمدن رغونکي سیند دی. د دغه سیند له برکته په لسګونه ښارونه او سلګونه آبادۍ رامنځ ته شوي او په تاریخ کې ځلیدلي دي. د غوریانو، هرات، سرخس او تجن تمدن نشول کولای ، د دې سیند په ناشتون کې، راوټوکیږي. ( پاپلي یزدي- جلالی ۱۳۷۴) .

د هلمند او هریرود په دوو حوضو کې تمدن رغونکي موجودې آبادَی د دغه دوو رودونو اوبو له بهیر سره تړاو لري. نننی ایران په دغو دوو سیندونو کې طبیعی- ژوند چاپیریالیزه تاریخي، سنتي، عرفي او قانوني اوبه برخه (حقابه) لري.

ایران دولت له۱۳۸۰ ( اتیایمي) لسیزې د زاهدان او مشهد ښارونو د اوبو کمښت د ستونځو له امله پریکړه وکړه د ایراني **اوببرخه ورونکو( اخیستونکو)** په موافقی د خپلې **اوببرخې** یوه برخه حوضي څخه د باندې ولیږدوي. او د پمپاژ په بنه یې دغو ښارونو ته ورسوي. حوضي څخه بهر، ملیونونو وګړو څښلو لپاره اوبو څخه له دې نوي ډول ګټې اخېستلو، ایران لپاره د دغو دوو رودونو اهمیت څو برابره کړَی دئ. که څه هم د کرهني اوبو په نسبت د څښلو اوبو ونډه ډېره ټیټه ده او ایران دغو ښارونو ته د خپلې حقابې له ونډې اوبه لیږدوي خو حوضي څخه بهر ته د اوبو لیږدول کیدی شي د مقابل لوري، یانی افغانستان، د اندیښنې لامل شي. پداسې شرایطو کې دوست هیواد افغانستان سره د ایران د اوبو دیپلماسي څو برابره اهمیت پیدا کوي.

**افغانستان او اوبه:**


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولــئ